گل جان صابر
۲۰۲۱/۱۲/۳۱

# هوښیاره مېرمن

یو سړی په خپله بلاربه آسپه سپور د خپل یوه دوست کورته د مېلمستیا لپاره ولاړ. د نوموړي سړي دوست آسجل نه لرلو او مېلمه ته يې وویل چې آسپه په انګړ کې چېرې وتړي. نوموړي هم خپله آسپه د کوربه په ګاډۍ پورې وتړله او پخپله د مېلمنو په کوټه کې ويده شو. آسپه د شپې لخوا ننګه شوه او بیاڼ يې راوړ. د کور خاوند چې سهار را ووت بیاڼ يې ولید، خوشاله شو او ویې ویل چې د ده ګاډۍ بیاڼ زیږولی دی. مېلمه چې کله بیاڼ ولید ویې ویل چې زما آسپه بلاربه وه او بیاڼ زما دی. مېلمه له کوربه سره ډېرې خبرې وکړې خو هغه نه منله چې بیاڼ د مېلمه د آسپې دی نو ځکه دوی پرېکړه وکړه چې قاضي ته ورشي. قاضي به پرېکړه وکړي چې په دوی دواړو کې کوم يو رښتیا وايي.

قاضي په کور کې نه و، مېرمن يې را ووتله او له راغلو دووتنو څخه يې پوښتنه وکړه چې له قاضي څخه څه غواړي؟ راغلو دوو تنو د قاضي مېرمنې ته کیسه وکړه چې د دوی دواړو په څه سره دعوا ده. د قاضي مېرمنې چې د دوی خبرې واورېدې نو ویې ویل:

- تاسو باید د قاضي راتلو ته انتظار شی، هغه تللی چې د خپلې اېږدنو د کروندې څخه د سمندرګي کبان وشړي، ژر بېرته راځي.

دواړو شخړه کوونکو په یوه غږ وویل:

- ته څه وايې، د قاضي مېرمنې! آیا کبان کولی شي چې د سمندرګي څخه راووزي او اېږدن تر پښو لاندې کړي؟!

د قاضي مېرمنې وویل:

- دا همداسې رښتیا دي لکه دا چې تاسو وایاست چې ګاډۍ بیاڼ وزیږاوه، نو ځکه بیاڼ باید مېلمه ته ورکړی.

د کور خاوند په دې کې هېڅ نه شوه ویلای نو بیاڼ يې مېلمه ته ورکړ.

قاضي چې کله راغی نو هغه ته يې کیسه وکړه چې د ده مېرمنې د شخړه کوونکو تر منځ څرنګه پرېکړه وکړه او ورته ویې ویل چې مېرمنې يې په خپلو دې کړو سره د ده سپکاوی کړی دی. په غوسه شوي قاضي پرېکړه وکړه چې خپله مېرمن له کور څخه وشړي. هغه خپلې مېرمنې ته وویل:

- تا زما سپکاوی کړی نو ځکه نور نه شې کولی چې زما په کور کې پاتې شې. ته د خپل پلار او مور کور ته ولاړه شه، هر څه د چې خوښ وي درسره يو يې‌سه.

د قاضي مېرمنې وویل:

- ښه ده، زه ځم خو اجازه راکړه چې د مخه ښې لپاره یوه اووه ورځنۍ مېلمستیا جوړه کړو.

قاضي وویل:

- ښه ده، دا مېلمستیا به جوړه کړو.

ټول کلی يې راټول کړ. اووه شپې او اووه ورځې يې وخوړل، ویې څښل او خوشالي يې وکړه. قاضي دا ټولې اووه شپې سترګه پټه نه کړه.

کله چې مېلمستیا پای ته ورسېده او مېلمانه ولاړل، قاضي پرېوت چې ویده شي، په یوه شیبه کې په درانه خوب ویده شو.

د قاضي مېرمنې نوکرانو ته وویل چې په غویو پسې ګاډۍ وتړي، قاضي يې په ګاډۍ کې واچاوه او د خپل پلار او مور کور ته روانه شوه.

قاضي ډېر وخت ویده و خو کله چې راویښ شو هېڅ نه پوهېده چې چېرې دی. هغه پوښتنه وکړه:

- زه چېرې یم؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه ته يې وويل:
- ته د خپلې مېرمنې سره يو ځاى د هغې د پلار او مور کور ته راغلى يې.
قاضي وويل چې مېرمن يې ور ته راولي. کله يې چې مېرمن راغله نو قاضي ور ته وويل:
- تا زما سره تر لومړي ځل هم ډېر بد کړي دي. تا ولې زه دلته را وستلى يم؟
مېرمنې ځواب ورکړ:
- تا پخپله ما ته اجازه راکړې وه چې هر څه مې چې خوښ وي هغه راسره ورلى شم. زما يوازې ته په کار يې، نور مې ستا له کور څخه هېڅ نه دي را اخيستي.
قاضي له ځان سره فکر وکړ او ويې ويل:
- هسې مې د خلکو خبرو ته غوږ ونيو، نږدې و چې د دوى د خبرو له امله داسې هوښياره مېرمن له لاسه ور کړم.
د قاضي په غوښتنه ګاډى وتړل شوه او هغه د خپلې مېرمنې سره يو ځاى خپل کور ته راغلل.

د قفقاز د خلکو کيسه
ژباړونکى: ګل جان صابر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزى بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ